

د پالیسۍ لنډیز

# له ۲۰۲۱ ز.کال وروسته په افغانستان کې د اروپا ښکېلتیا

## ناڅرګندتیا، پراګماتیزم، او دوامداره ګډون

اندریو واټکېنز، تېمور شاران

FRIEDRICH EBERT STIFTUNG

دغه د پالیسۍ لنډیز په ۲۰۲۱ ز.کال کې او له هغې وروسته له افغانستان سره د اروپا ښکېلتیا تر بحث لاندې نیسي. دا له مهالوېش سره سم په ۲۰۲۱ ز.کال کې له افغانستان څخه د امریکایي پوځیانو وتل او د اروپا پر ګټو یې اغېزې او دا چې څرنګه به په راتلونکي کې د اروپا د پالیسۍ غوراوي محدود کړي، تر څېړنې لاندې نیسي. دا د افغان سولې خبرو او همدارنګه د پلان جوړونې ستونزو په اړه د اروپایي ټولنې د اوسني دریځ پر وړاندې باالقوه خنډونه څېړي، په داسې حال کې چې اروپایي هېوادونه په لویه پیمانه د امریکا متحدو ایالتونو د یو اړخیزې پراخېدونکي پالیسۍ په اړه څرګندوالی غواړي. باثباته افغانستان د اروپا اوږدمهالو امنیتي اندېښنو لپاره حیاتي دی او په راتلونکي کې د مخ ته تګ لپاره سپارښتنې وړاندې شوې دي.

اروپایي ټولنې او اروپایي هېوادونو د ۲۰۰۱ ز.کال په وروستیو کې د امریکا متحدو ایالتونو او ناټو له مداخلې وروسته د افغان حکومت او ټولنې په ثبات کې د پام وړ مرسته کړې ده[1] په داسې حال کې چې له افغانستان سره د اروپا ښکېلتیا له استعمار وروسته دورې ته ګرځي؛ د بېلګې په توګه، په ۱۹۳۰ ز.کال کې په بیارغونه کې د جرمني رول، معاصرې اړیکې په اساسي ډول د امریکا متحدو ایالتونو له لوري تعریف شوې دي. له ۲۰۰۱ ز.کال څخه را په دې خوا د امریکا متحدو ایالتونو د ټینګار په ترڅ کې د ناټو غړو هېوادونو خپلې پوځي همکارۍ دوامداره ساتلې دي (یا دا چې په تدریج سره وتلي دي). خو په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ ز.کلونو کې د افغان کډوالو په ګډون چې له جګړې تښتېدلي وو، د کډوالو بحران د سوریې له جګړې راپورته شو، ډېری اروپایي هېوادونو لږ قناعت ته اړتیا درلوده ترڅو د دوی له خوا ومنل شي چې د افغانستان ثبات د دوی په ګټه دی.

## په افغانستان کې د اروپا ننګونه: د ناڅرګندتیا ترمنځ پلان جوړونه

اوسمهال، دا چې په افغانستان کې د امریکا پوځي شتون او ډیپلوماتیک نفوذ نور د نه ښکېلتیا پر لور میلان لري او د افغان سولې تازه پیل شوې پروسه لا دمخه اړو دوړ او ګواښونه تجربه کوي؛ داسې چې د هېواد په کچه جګړه دوام لري او اروپایي پالیسي جوړوونکي له ډېرو پوښتنو سره لاس او ګرېوان دي. که د سولې خبرې د جګړې پر وړاندې سیاسي جوړجاړی رامنځته کړي، بیا به یې کوم ډول وي، طالبان به په نوي سیاسي نظم کې کوم ډول رول غوره کړي او دا به د اروپایي مرستو او پانګونې لپاره څه معنی ولري؟ د پوځ له راکمېدو وروسته د شونتیا په صورت کې د امریکا متحدو ایالتونو د شتون او ښکېلتیا راکمېدل به (او د ۲۰۲۱ ز.کال تر مې میاشتې پورې د بشپړ وتلو شونتیا) د اروپا راتلونکو امنیتي مرستو لپاره څه معنی ولري؟ دلته د اروپایي ټولنې د نوي بدیل د ښکېلتیا په اړه د اړتیا وړ وضاحت نشته. د پایلې په توګه، ډېری اروپایي هېوادونه غواړي چې د شونتیا تر بریده د افغان کډوالو بېرته راګرځول پیل کړي، خو د تاوتریخوالي کچه لکه د تېرو کلونو د جګړو په څېر خورا لوړه ده.

د افغانستان لپاره د اروپا د ښکېلېدو پلان جوړونه د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو د استازو ترمنځ د سولې خبرو په پایلې پورې اړه لري. بیا هم د سولې خبرو په اړه اروپایي دریځونه کولی شي چې په راتلونکې پالیسي جوړونه کې اوږدمهالې اغېزې ولري.

پخپله اروپایي ټولنه او ډېری اروپایي حکومتونه په دې اندېښنه کې دي چې د امریکایي او ناټو پوځونو له راکمېدو سره به د افغانستان پر وړاندې د دوی پالیسۍ کوم ډول بڼه او حدود غوره کړي؛ نو ځکه ډېری افغانان او اروپایان شته چې له اروپا غواړي «دې پوښتنې ته ځواب ورکړي»، ترڅو اړتیاوې او ننګونې په نښه او روښانه شي. په حقیقت کې اروپایي پالیسي جوړوونکي خورا واضح دي: د امریکا متحده ایالاتو د پوځي ځواک له دوامداره مرستې پرته د دوی حکومتونه نه شي کولی چې په عمل کې خپل پوځي شتون او یا هم مرستو ته دوام ورکړي. اروپایي بسپنه ورکوونکي حکومتونه او د ناټو پوځونو ملاتړي دولتونه داسې ښکاري چې د افغان جګړې راتلونکي، د جګړې شدت زیاتوالي باالقوه عاملونو او همدارنګه سیاسي جوړجاړي او مخکې له دې چې په اوږدمهاله ښکېلتیا او ملاتړ کې له ګواښ سره مخ شي، د راتلونکي افغان حکومت د ترکیب په اړه وضاحت غواړي.

---

۱. د «له ناڅرګندتیا څخه تر ستراتیژۍ پورې: د افغانستان په ګاونډ کې د ګټونکو سناریوګانو لپاره خنډونه کوم دي؟» پروژه د فریدریش-اېبرت-بنسټ (FES) خپلواکه هڅه ده چې د افغانستان ګاونډیو لپاره احتمالي سناریوګانې، د پالیسۍ سمون او د اروپایي بهرنیو پالیسي جوړونکو ترمنځ د هر اړخیزې ستراتیژۍ اړتیا تر بحث او څېړنې لاندې نیسي. دغه لنډیز د هغې سلسلې برخه ده چې د اندریو واټکینز او دوکتور تېمور شاران له لوري لیکل شوی دی چې د امریکایي ځواکونو وتلو او د افغان سولې روانو مذاکرو اغېزې د پالیسۍ پر شته وسایلو یا توکو، ستراتیژیکو ګټو او په افغانستان کې او له افغانستان څخه بهر د کلیدي ښکېلو غاړو لپاره ننګونې تر بحث لاندې نیسي. د پالیسۍ د لنډیزونو بشپړ لېست له دې ځای څخه ترلاسه کولای شئ: https://afghanistan.fes.de/publications

## اصول د پراګماتیزم پر وړاندې؟

د افغان سولې په اړه د اروپايي ټولنې «اصولي دريځ» لکه څرنګه چې په عمومي ډول ورته اشاره شوې، د نيوکې له اړخه د «انتظار او ليد» په ليکه کې دی. ځينې کتونکي په دې اند دي چې د اروپا اوږدمهالې ښکېلتيا ناڅرګندتيا رامنځته کړې ده. د سولې پروسې په اړه د اروپايي ټولنې د شورا اعلاميه په مې مياشت کې خپره شوه، چې پر بنسټ يې له طالبانو او افغان حکومت سره راتلونکې مرستې د بشري حقونو او شخصي ازاديو په خونديتابه پورې چې د ملګرو ملتونو په منشور کې ورته اشاره شوې ده، مشروطې کړې دي. دا په دې معنی چې مناسبه حللاره څرګنده او د افغانستان اسلامي جمهوريت باندې د مذاکراتو د پيل په ترڅ کې ملاتړ بند نه شي. په راتلونکي کې د دغو پايلو اغېزې پراخې دي. د ښکېلتيا لپاره اروپايي غوراوي به د محدودو کړنلارو په ګډون چې ناټو له خپله ځانه شاته پرېښي دي، د عمل په ميدان کې د واقعيتونو پر اساس شکل غوره کوي. د بشري حقونو په پيروۍ ټينګار، کولی شي چې د اروپا نفوذ نور هم محدود کړي او دا چې څه شی له جګړې په وروسته چاپېريال کې د ننګونې په توګه پاتې کېږي، اغېزه کوي.

د اروپايي ټولنې ځينو چارواکو پوښتنه وکړه چې ايا د مرستو مشروطول دوام وکړي او کنه او غوښتنه يې وکړه چې د سولې په پروسه کې اوږدمهالې ژمنې بايد په مستقيم ډول په روانو تمايلاتو پورې ونه تړل شي او په راتلونکي نومبر کې د جنيوا په کنفرانس کې ورته اشاره ونشي. خو ځينو افغان چارواکو او فعالانو د اروپايي ټولنې دريځ وننګوه او ويې پوښتل چې ايا د مرستو او پرمختګ محدودول به وکولی شي په واقعي ډول له افغانانو څخه د اروپايي ټولنې تمويل او ملاتړ چې ورته ډېره اړتيا شته منع کړي او اجازه ورکوي چې سخت دريځه طالبان يې په يرغمل کې ونيسي؟ مشروط ملاتړ داسې چې ارزښت او غوښتنه يې وپېژندل شي ترڅو د طالبانو په ګډون د ټولو ښکېلو غاړو لپاره يې دوام ډاډمن شي. خو که طالبان پر دې پوه شي چې دوی د اروپا له ملاتړ او د امريکا متحدو ايالتونو او همدارنګه له سولې څخه په وروسته چاپېريال کې ژوندي پاتې کېدلی او خپلو کړو وړو ته دوام ورکولی شي، نو د اروپايي ټولنې د مرستو مشروطول به رد او د اروپايي ټولنې په وړتيا کې چې له افغانستان څخه ملاتړ او نفوذ وکړي، د پام وړ کمی راشي.

د اروپايي ټولنې د ډيپلوماتانو د وينا پر بنسټ، طالبان نه يوازې د افغانستان د کنټرول په هڅه کې دي بلکې هڅه کوي چې ټول دولت کنټرول او په عملي دول په نړيوال سيستم کې ځای ولري. لږ تر لږه يوه چارواکي داسې دليل وړاندې کړ چې په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د مالي ملاتړ پراخوالی چې د نړۍ په کچه ستر ګټه وړونکی هېواد دی، دا به ناشونې وي چې ځای يې بل څوک ونيسي (نو ځکه اروپايي تمويلوونکو ته د ګروپ پر سر نفوذ ورکړل شو). تر دې دمه دغه استدلال دوام لري ترڅو د افغان سياسي څېرو له لوري له نيوکې سره مخامخ شي او د يوې ازادې پوښتنې په توګه پاتې دی، داسې چې اروپايي ټولنه او غړي هېوادونه يې بايد له راتلونکو څخه دمخه په ښه ډول يې په نښه کړي.

همدارنګه د افغانستان اروپايي همکاران هم د دوی په راتلونکو پاليسيو کې له عملي محدوديتونو سره مخامخ دي. د ناټو راتلونکې لپاره باالقوه عامل مبهم دی، هغه ابهام چې د امريکا متحدو ايالتونو او اروپايي همکارانو ترمنځ د جنجال په ساحه باندې ټينګار کوي. د امريکا متحدو ايالتونو له لوري د مذاکرې مېز ته د افغان لوريو د لارښوونې په اوږدو کې د ناټو له غړو هېوادونو سره په پراخه کچه مشوره نه وه شوې. د افغانستان راتلونکې امنيتي مرستې په اړه په ناټو کې دننه بحثونه او اوږدمهاله پلان جوړونه، په سازمان کې دننه د امريکا متحدو ايالتونو له حد څخه زيات رول له لارې ترسره کېږي. په پای کې، د لوجستيکي غير عملي توب په صورت کې د ناټو مهم ماموريت مخ ته وړل د ډېرو غوراويو پر وړاندې دروازه بندوي، چې «يوځای دننه، يوځای بهر» لږ انتخاب او ډېرې اړتياوې رامنځته کوي. د امريکايي ځواکونو د بشپړ وتلو په صورت کې د ناټو امنيتي مرستو د دوام لپاره کوم احتمالي غوراوی نه تر سترګو کېږي.

ايا د اروپايي سياسي څېرو ترمنځ به په کافي اندازه لېوالتيا موجوده وي چې د افغان دولت د ملاتړ دوام ډاډمن کړي؟ په تېرو پنځو کلونو کې د غړو هېوادونو له ملاتړ څخه پرته، د اروپايي ټولنې تمويل په يوازې ځان ۱،۴ مليارد ډالرو ته رسېږي، خو که د متحدو ايالتونو تمويل راکم شي، نو ملياردونو نورو ډالرو ته به اړتيا شي ترڅو دغه تشه جبران کړي. د اروپايي ډيپلوماتانو ترمنځ اوسني بحثونه له دې امله دي چې کېدای شي د ژمنو ترلاسه کول ستونزمن وي ترڅو د تمويل اوسنۍ اندازه په خپل حال وساتل شي، چې د امريکا متحد ايالتونه په ډېره کمه اندازه پاتې شوې تشه ډکوي. ځينې له دغو پوښتنو څخه په مناسب او پراخ ډول د اروپايي ښکېلو غاړو له لوري په نښه شوي دي، په داسې حال کې چې نور بې ځوابه پاتې دي. يو شمېر اروپايي چارواکي د افغان جګړې په تړاو د «ستړيا احساس» په اړه رښتيني دي، چې د لويې وچې په کچه د ډېری (که ټول نه وي) سياسي ګوندونو او وګړو له لوري ورته احساس شوی دی. لږ تر لږه د يوه لوړ رتبه چارواکي له لوري دا په روښانه ډول تصديق شوې چې که د افغانستان جګړه او يا هم د سولې پروسه خورا بده شي، نو د مرستو شرطول به له زغم څخه واوړي.

> په پای کې، د امريکا متحده ايالاتو له ګډون پرته د لوجستيکي غير عملي توب په صورت کې د ناټو مهم ماموريت مخ ته وړل د ډېرو غوراويو پر وړاندې دروازه بندوي، چې «يوځای دننه، يوځای بهر» لږ انتخاب او ډېرې اړتياوې رامنځته کوي.

## د افغانانو اندېښنې او بالقوه کړکېچونه

د نوي پیل شوي سولې خبرو په اړه د اروپایي ټولنې اصولي دریځ او د امریکا متحده ایالاتو په رهبرۍ له لاندې کړنلارې سره د پام وړ مخالفت، د افغان پوهانو پاملرنه یې ځانته را اړولې ده. همدارنګه دغه دریځ په افغان چارو کې له اندازې لوړ د جرمني او دوه اړخیز ملاتړي په توګه د دوی موازي رول او ان د سولې په پروسه کې د درېیم ګړي په توګه د دوی د لوړ رول په ګډون، د اروپایي ټولنې د ځانګړو هېوادونو پاملرنه یې هم ځانته را اړولې ده. ځینې وختونه دولتونه په خپلواک ډول د اروپایي ټولنې له عمومي کرښې پرته بېلابېل دریځونه غوره کوي، ځینې وختونه په خصوصي ډیپلوماتیکه ښکېلتیا کې، په نورو وختونو کې د افغان چارو پر وړاندې داسې دریځ غوره کوي چې خپلو وګړو ته خبر ورکوي. کله چې خبره د افغانستان د پالیسۍ شي، نو د اروپایي هېوادونو ترمنځ د ګڼو بېلابېلو کچې راولاړېږي او له دې‌رې افغان چارواکو سره دا پوښتنه مطرح کېږي چې ایا شونې ده «اروپایي» راتلونکې ښکېلتیا واحده تشخیص شي.

همدارنګه، سره له دې چې د اروپایانو اندېښنې په زیاتېدو دي او په خپله د افغانانو لپاره شرایط هم ډېر بد دي، خو بیا هم په اروپا کې د کډوالو او بېرته راګرځېدونکو موضوع په زیاته اندازه د اروپایي او افغان ښکېلو غاړو ترمنځ په خبرو کې تر ټولو ډېره شوې ده. په ۲۰۱۹ ز.کال کې افغان وګړو په لوړه کچه د اروپایي ټولنې په هېوادونو کې پناه غوښتله. دا غټ شمېر دی چې د جګړې په شدت کې د زیاتوالي له امله ډېر شمېر افغانان له هېواد څخه تېښته کوي؛ له ۲۰۱۸ ز.کال را په دې خوا د افغانانو په شمېر کې ۸۵ سلنه زیاتوالی راغلی دی. په داسې حال کې چې د کډوالو او بېرته راګرځېدونکو د راتلونکې پالیسۍ په اړه په ښکاره ډول په کمه اندازه خبرې شوې دي، د اروپایي ټولنې پایله کېدای شي چې د اروپایي غوښتنو پر وړاندې د اندېښنې وړ اشاره وي.

دغه ټولنه یو ځل بیا خپله ژمنه چې په «ګډه مخ ته تلونکې لار» کې ده، تصدیقوي چې په ۲۰۱٦ ز.کال کې لاسلیک او په دې اکتوبر کې له منځه ځي؛ دا هغه اعلامیه ده چې د شونتیا پر مهال هغه کوي د افغانانو تبعید ته سهولتونه چمتو کړي. د مخ ته تګ ګډه لار چې د راتلونکي جنیوا کنفرانس په سیورې کې به یو ځل بیا پرې خبرې وشي او د سولې نویو خبرو لپاره لنډ وخت، په بالقوه توګه د مشروطولو او منلو په شرایطو کې فشار راوړي.

یو شمېر سناریوګانې د افغانستان په سیاسي او امنیتي چاپېریال کې د ښه والي یا مخ ته تګ ښکاروندویي کوي. د ډېرو ننګونو سربېره، مذاکرې پر مخ ځي او سیاسي جوړجاړې د دواړو جګړه ییزو افغان لورو ترمنځ رسېدلی دی، دلته دوه لارې دي: د یوې په پایله کې به په نوي مدیریت کې د قدرت شریکول وي چې اروپایي دولتونه پر دې باور دي چې دوی ورسره کار کولی شي، په داسې حال کې چې په بله پایله کې که موضوع د بشر حقونو شي، نو کېدای شي د خلکو له غوښتنو سره برابره نه وي. که اروپایي ټولنه او غړي هېوادونه یې اوسنیو اعلان شویو شرایطو ته ژمن پاتې شي، نو د افغانستان پر وړاندې د اروپایي ټولنې اوږد مهاله اړیکه به د نوي کړنلارې له مخې مشخص شي. په عین وخت کې، د ښکېلتیا په موخه ډېری اروپایي لیارې په هېواد او سیمه کې د امریکا متحده ایالتونو د کړنلارو په منظم کولو پورې اړه لري؛ د امریکا متحده ایالتونو بالقوه وتل به پرته له دې چې د هغې پلیتوب، په عمل کې اغېزې او د مداخلې غوښتنه په پام کې ونیول شي، اروپایي غوراوي محدود کړي.




په اروپایي ټولنه او نورو هېوادونو کې د افغان پناه غوښتنې غوښتنلیکونو د مېشتېدو لومړۍ بېلګه

سرچینه: د اروپا د پناه غوښتنې د ملاتړ دفتر




په اروپایي ټولنه او نورو هېوادونو کې د مېشتېدو لپاره د افغان پناه غوښتونکو غوښتنلیکونه

سرچینه: د اروپایي پناه غوښتنې د ملاتړ دفتر

## وړاندیزونه

- هر ډول د ناټو ماموریت ته د پای ټکی اېښودل به د امنیتي مرستې او پرمختیایي ملاتړ ترمنځ د بسپنه ورکوونکو ترمنځ اوسنی وېش ونګوي. که څه هم د اروپایي ټولنې/CSDP غښتلي ماموریت د پر مخ وړلو لپاره کمه لېوالتیا شتون لري، غرړي هېوادونه اړتیا لري چې د امنیتي سکټور اهمیت ته پاملرنه وکړي او خپلې پالیسۍ منظمې کړي (داسې چې د دولت او ملي ماتوالی کولای شي اروپایي ګټې له خطر سره مخ کړي).
- په افغانستان کې د اروپایي ټولنې ښکېلتیا لپاره مستقیم او سم حکایت او ستراتیژي رامنځته کړئ چې دا د بهرنیو ټکانونو پر وړاندې ډېر انعطاف رامنځته کوي (له «یوځای سره دننه، یوځای سره بهر» سره په مخالفت کې).
- د افغان سولې خبرو پر وړاندې د اروپایي ټولنې داخلي کړنلاره یو ځل بیا وارزوئ، په ځانګړي ډول څرنګه بسپنه ورکوونکي ملاتړ نوښتونه کولای شي چې د سولې په پروسه اغېزه وکړي، د بېلګې په توګه، د جنیوا کنفرانس مهالوېش او اغېزې یا د ګډې مخ ته تلونکې لارې په تړاو بیامذاکره کول.
- په راتلونکي کې له افغانستان سره د ملاتړ مشروطولو ټینګار ته دوام ورکړئ، خو د دغو شرایطو د معیارونو او پلیتابه په اړه له افغان ښکېلو غاړو سره پراخه او هر اړخیزه تبادله پیل کړئ، ترڅو د داسې انګېرنو مخه ونیول شي چې کېدای شي یو لوری د «اروپایي ټولنې مرستې یرغمل ونیسي».
- د مرستو د کچې د راکمولو په لړ کې د افغان بنسټونو د هڅو ملاتړ وکړئ، چې د مرستو اغېزمنتیا لوړه شي او د بسپنه ورکوونکو ترمنځ د همغږۍ په رامنځته کولو کې زیار وباسئ، ترڅو د دوه ګونو مرستو او هڅو مخه ونیول شي.

---


**د لیکوالانو په اړه**

ډاکټر تېمور شاران د افغانستان په امریکایي پوهنتون کې د عامه پالیسۍ مرستیال پروفیسور دی او تر دې پخوا د افغانستان لپاره د کرکېچ نړیوالې ډلې لوړ پوړی شنونکی و.

انډریو واټکېنز د افغانستان شخړې او سولې لپاره د هیله منده څېړونکی او شنونکی دی او د شخړو په مخنیوي کې ژوره ښکېلتیا لري. تر دې پخوا یې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو، بشري ټولنې، د امریکا متحدو ایالتونو حکومت او خپلواک څېړونکي په توګه دندې ترسره کړې دي.


**د پښتۍ انځور په اړه**

د هغه وخت د جرمني د دفاع وزیره، د اروپايي ټولنې د کمېسیون مشره، ارسولا وان ډر لېین د کابل په هوایي ډګر کې، افغانستان، ۲۶ مارچ ۲۰۱۸.

مایکل کېپلر/رویټرز


چاپ ©۲۰۲۱ په افغانستان کې د فریدریش ایبرت بنسټ

وېب پاڼه: www.afghanistan.fes.de



د فریدریش ایبرت بنسټ له لیکي مخکني اجازې پرته، د فریدریش ایبرت بنسټ له خوا هر راز خپرونو څخه سوداګریزه ګټه اخیستنه جواز نه لري.

په دغه خپرونه کې وړاندې شوي نظریې، د د فریدریش ایبرت بنسټ د لیدلورو منعکسوونکي نه دي.